# د حضرت حجی نبی کِتاب ـ ماخذ انبیاء

## پېژندګلو

حضرت حجی پېغمبر خلقو ته داسې فرمائی چې خُدائ پاک له په خپل ژوند کښې اوله درجه ورکړئ. خُدائ پاک خپلو منونکو له حکمت او طاقت ورکوی چې هغه کار وکړی کوم چې ورته خُدائ پاک حواله کړے دے. خو کهٔ مونږ خيال نهٔ کوُو نو د ژوند مصروفيات به مونږ د خُدائ پاک نه لرې کړی. يهوديانو دا خبره هېره کړه چې هغوئ چا بچ کړل او وې ساتل. نن سبا د ترقۍ او د ټيکنالوجۍ په دې تېز ترين دور کښې مونږ په ځائ د دې چې د خُدائ کارونو له زور ورکړُو نو مونږ خپلو کارونو کښې بوخت يُو. خو خُدائ پاک مونږ نه دا غواړی چې په خپل هر کار کښې هغهٔ له اوله درجه ورکړُو. د خُدائ پاک بادشاهی آزمائشی ښکارېدے شی خو د خُدائ پاک طاقت له شکست ورکول ناممکن دی. کله چې مونږ قدم اخلو نو هغه د کار کولو دپاره زمونږ ټول ضرورتونه پوره کوی. کله چې د حضرت عيسىٰ مسيح نه پينځه سوه اتهٔ دېرش کاله وړاندې د يهوديانو اوله ډله د بابل د جلاوطنۍ نه يروشلم ته راواپس شوه نو هغوئ د خُدائ پاک د کور جوړولو کار شروع کړو خو ډېر زر يې حوصله بائيلله او کار يې بند کړو. خو د حضرت حجی او حضرت زکرياه په

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

نبوتی خِدمت او ډاډګیرنې په اثر کښې هغوئ په دوه ویشت کاله کښې د خُدائ پاک د کور جوړولو کار سر ته ورسولو. حضرت حجی خلق ورټل چې تاسو په عالی شان کورونو کښې اوسیږئ او د خُدائ پاک کور کنډر پروت دے. هغۀ خبردارے ورکړو چې باوجود د دې چې تاسو ښۀ محنت وکړئ او پېسې وګټئ نو هغه به تاسو له هیڅ فائده درنۀ کړی، ځکه چې تاسو د مالِک خُدائ کور جوړول نظر انداز کړی دی او هغه تاسو نه نارضا دے. حضرت حجی هغوئ له دعوت ورکړو چې توبه وکړئ او د خپل پلار نیکۀ خُدائ پاک سره کړے لوظ تازه کړئ. د خُدائ پاک د کور دوباره آبادول د دې خبرې نښه وه چې د خُدائ پاک حضوری د خپلو خلقو په مینځ کښې بیا موجوده ده. د حفظ کولو دپاره ١٣:١ آیت ”زۀ ستاسو مل یم.“

## د مالِک خُدائ د کور جوړولو حُکم

١ ١ د داریوس بادشاه د بادشاهۍ په دویم کال د شپږمې
میاشتې په اوله ورځ، د مالِک خُدائ کلام د حجی پېغمبر په
وسیله زرُبابل د شلتی‌ایل په زوئ نازل شو چې د یهوداه
حکمران وو، او یشوَع ته چې د مشر اِمام یهوصدق زوئ وو.
٢ ”دا هغه څۀ دی چې مالِک خُدائ ربُ الافواج یې
فرمائی، دا خلق وائی چې د مالِک خُدائ د کور بیا جوړولو
وخت لا نۀ دے راغلے.“ ٣ بیا د مالِک خُدائ پېغام د
حجی پېغمبر په ذریعه راغلو چې، ٤ ”آیا تاسو ته دا ښۀ
ښکاری چې زما کور کنډر پروت وی او تاسو په عالی شان
کورونو کښې اوسیږئ؟ ٥ اوس مالِک خُدائ ربُ الافواج

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

فرمائی، تاسو سره چې څۀ کيږی ورباندې غور وکړئ. ۶
تاسو ډېر تخم کَرلے دے، خو فصل مو لږ ريبلے دے. تاسو
خوراک کوئ خو ورباندې مړېږئ نه. تاسو اوبۀ څښئ، خو
تنده مو پرې نۀ ختميږی. تاسو جامې اغوندئ، خو پرې نۀ
ګرمېږئ. تاسو تنخواه ګټئ، خو صرف په هغه بټوه کښې
اچولو دپاره چې په کښې سورى وی. ۷ مالِک خُدائ ربُ
الافواج فرمائی چې په خپلو کارونو ډېر غور کوئ. ۸ بره
غر ته لاړ شئ او لرګی ترې لاندې راوړئ، او زما کور جوړ
کړئ، نو چې زۀ پرې خوشحاله شم او عزتمند شم، مالِک
خُدائ داسې فرمائی. ۹ تاسو د ډېرو په طمع وئ، خو
وګورئ، دا لږ وختل. تاسو چې کور ته څۀ راوړل، هغه ما په
هوا کښې والوځول. ولې؟ مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی.
زما د کور په وجه چې ګډوډ پروت دے، او تاسو ټول په
خپلو کورونو جوړولو کښې مصروف يئ. ۱۰ نو ځکه
ستاسو په وجه، آسمانونو پرخه ورول او زمکې فصل کول
بند کړل. ۱۱ ما د اوچ کالی حکم کړے دے چې په زمکه او
غرونو، په غله، په نوې ميو، په زيتُونو تيلو او په هر قسمه
پيداوار چې زمکه يې کوی، په انسانانو او ځناورو، او ستاسو
د لاسونو په محنت دې راشی.“ ۱۲ بيا زرُبابل د شلتی‌ايل
زوئ، يشوَع د مشر اِمام يهوصدق زوئ، او د مالِک خُدائ
پاتې شوو ټولو خلقو د مالِک خُدائ د هغوئ د خُدائ پاک
خبرې ومنلې چې د حجی پيغمبر په ذريعه وئيلے شوې وې
چې مالِک خُدائ د هغوئ خُدائ پاک هغه رالېږلے وو. او
خلق د مالِک خُدائ نه ويرېدل. ۱۳ بيا حجی، د خُدائ پاک
پيغمبر، خلقو ته د مالِک خُدائ دا پيغام ورسولو، ”زۀ ستاسو
مل يم، مالِک خُدائ فرمائی.“ ۱۴ نو مالِک خُدائ د زرُبابل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

د شلتی‌ایل د زوئ جذبه راپاروله چې د یهوداه حاکِم وو، او د
یشوَع جذبه چې د مشر اِمام یهوصدق زوئ وو، او د مالِک
خُدائ د ټولو ژوندی پاتې شوو خلقو جذبه. هغوئ راغلل او د
مالِک خُدائ ربُ الافواج چې د هغوئ پاک خُدائ وو په کور
یې کار شروع کړو. ۱۵ دا کار د داریوس بادشاه د بادشاهۍ
په دویم کال د شپږمې میاشتې په څلیریشتمه ورځ شروع شو.

## د مالِک خُدائ د نوی کور وعده شوے شان او شوکت

۲ ۱ د اوومې میاشتې په یویشتمه ورځ، د مالِک خُدائ
کلام په حجی پېغمبر نازل شو چې، ۲ ”زرُبابل د شلتی‌ایل
زوئ ته چې د یهوداه حکمران دے، یشوَع ته چې د مشر اِمام
یهوصدق زوئ دے، او د مالِک خُدائ پاتې شوی خلقو ته
ووایه. هغوئ نه تپوس وکړئ، ۳ په تاسو کښې داسې
څوک پاتې دی چا چې د خُدائ د دې کور مخکښې شان او
شوکت لیدلے وو؟ دا تاسو ته اوس څنګه ښکاری؟ ولې دا
تاسو ته هیڅ هم نۀ ښکاری څۀ؟ ۴ خو اوس تکړه شه، اے
زرُبابله، مالِک خُدائ فرمائی چې، تکړه شه، اے یشوَع د
مشر اِمام یهوصدق زویه، تکړه شه، اے د دې مُلک ټولو
خلقو، مالِک خُدائ فرمائی، کار کوئ. ځکه چې زۀ ستاسو
مل یم، مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی، ۵ لکه څنګه چې
ما تاسو سره وعده کړې وه کله چې تاسو د مِصر نه بهر
راوتلئ. زما روح ستاسو په مینځ کښې دے نو تاسو مۀ
یرېږئ. ۶ مالِک خُدائ ربُ الافواج دا فرمائی چې، لږ

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

وخت پس به زۀ آسمان او دُنیا، سمندر او اوچه زمکه
وخوځوم. ۷ زۀ به ټول قومونه ولړزوم، او د ټولو قومونو
خزانې به راوړے شی او زۀ به دا کور د جلال نه ډک کړم،
مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی. ۸ سپین زر زما دی او
سرۀ زر هم زما دی، مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی. ۹ د
دې موجوده کور جلال به د مخکښې کور د جلال نه زیات
وی، مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی. او زۀ به په دې ځائ
کښې امن راولم. مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی.“

## د ناپاکو خلقو دپاره برکت

۱۰ په څلیریشتمه ورځ د نهمې میاشت، د داریوس د
بادشاهۍ په دویم کال، د مالِک خُدائ کلام په حجی پېغمبر
نازل شو، ۱۱ ”مالِک خُدائ ربُ الافواج وفرمائیل چې،
اِمامانو نه تپوس وکړئ چې شریعت په دې حقله څۀ فرمائی.
۱۲ کۀ چرې یو سړے د قربانۍ نه مقدسه غوښه په خپله
لمنه کښې واچوی او چرته یې وړی، او د هغۀ لمن روټۍ یا
ترکارۍ، میو، تېلو یا نور د خوراک څیزونو سره ولګی، آیا دا
څیزونه به هم مقدس شی؟“ نو اِمامانو په جواب کښې ووئیل
چې، ”نه.“ ۱۳ بیا حجی وفرمائیل، ”کۀ چرې یو سړے د
مړی سره په لګېدو باندې ناپاک شی بیا کۀ هغه په دې کښې
څۀ څیز سره ولګېږی، آیا دا به ناپاک شی؟“ ”آو،“ اِمامانو
جواب ورکړو، ”دا به ناپاک شی.“ ۱۴ بیا حجی وفرمائیل،
”زما په نظر کښې د دې خلقو او د دې قوم هم دا حال دے.
مالِک خُدائ فرمائی چې، دوئ چې څۀ کوی او څۀ قربانی
کوی هغه ناپاک دی. ۱۵ د دې نه وړاندې چې د مالِک

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

خُدائ د کور د بنیاد کانړی یو په بل نهٔ وُو ایښودلے شوی،
اوس دې خبرې ته ښهٔ خیال وکړئ چې ستاسو به څهٔ حال
وو؟ ١٦ کله چې تاسو د غلې د شلو بورو په اُمید راغلی وئ،
نو هلته صرف لس بورۍ وې. کهٔ څوک د میو چاټۍ ته راغلو
چې سل لیټره ترې راویاسی، او هلته صرف پنځوس لیټره
وې. ١٧ ما ستاسو د لاس په ټولو کارونو، تِلیا او پیونکې او
ږلۍ راوسته. خو تاسو بیا هم ما ته واپس رانهٔ غلئ، مالِک
خُدائ دا فرمائی. ١٨ تاسو په دې ننۍ ورځ چې د نهمې
میاشتې څلیریشتم تاریخ دے سوچ وکړئ، کله چې په دې
ورځ د مالِک خُدائ د کور بنیاد کېښودلے شو. په دې فکر
وکړئ، ١٩ زهٔ اوس تاسو سره وعده کوم په دې وخت کښې
چې غله لا په ګودام کښې شته، تاسو تر اوسه پورې خپل
فصل نهٔ دے لو کړے، او ستاسو د انګورو بوټو او د اینځرو
ونو، انار او د زیتُونو ونو هیڅ میوه لا نهٔ ده کړې. خو د نن نه
به زهٔ تاسو له برکت درکړم.“

## زرُبابل سره د مالِک خُدائ وعده

٢٠ په هم هغه ورځ د هغې میاشتې په څلیریشتمه ورځ د
مالِک خُدائ کلام په دویم ځل په حجی نازل شو چې، ٢١
”زرُبابل ته ووایه چې د یهوداه حکمران دے چې زهٔ به آسمان
او زمکه وخوځوم. ٢٢ زهٔ به شاهی تختونه اولټه کړم او د
پردو حکومتونو طاقت به ختم کړم. زهٔ به جنګی ګاډۍ او د
دې چلوونکی په بل مخ واړوم، آسونه او د دې سوارهٔ به یو
بل ووژنی. ٢٣ مالِک خُدائ ربُ الافواج فرمائی چې، زهٔ به
تا په هغه ورځ بوځم، زما خِدمت کوونکی زرُبابل د شلتی‌ایل

Copyrighted material from pashtobibles.org. Not for reprint/publishing purposes.

زویه، مالِک خُدائ فرمائی، او زۀ به تا لکه د خپل مهر د
ګوتې په شان کړم، ځکه چې تۀ ما خوښ کړے يې. مالِک
خُدائ ربُ الافواج دا فرمائی.“


Copyrighted material not for reprint/publishing purposes.